

# په پولیسو کې د ښځو رول

# او په اندونیزیا کې د امنیت لاسته راوړلو کې

# د ښځینه پولیسو ونډه

**کابل، د اکتوبر ۲۱ – ۲۵، ۲۰۰۷**

**وړاندې شوې مقاله**

**د مسلمانو ښځینه پولیسو نړیوال کنفرانس کی**

**کابل، افغانستان، د میزان 29 تر عقرب 3، 1386**

**سمونوال پرتوی ای یادی، د اندونیزیا ملی پولیس**

# فهرست

شالید ........ 3

ب. هدف ........ 3

ج. د ښځینه پولیسو په اړوند په مختلفو موضوعاتو باندي بحث ........ 4

د. ښځینه پولیس د اصلاح په عصر کي ........ 5

د مظاهره کوونکو سره د ښځینه پولیس د چلند مشخصه دنده ........ **Error! Bookmark not defined.**

د کورني زورزیاتي سره د معاملي لپاره د ښځینه پولیسو ځانګړی واحد ........ **Error! Bookmark not defined.**

د ښځو او ماشومانو په تړاو د جنایي پیښنو سره معاملي کي د ښځینه پولیسو ځانګړی واحد **Error! Bookmark not defined.**

د تحقیق پایله ........ 7

د ښځینه پولیسو د رول د پیاوړي کولو لپاره ځانګړي پروژه ........ 9

د روزنیزي پروژي د تکمیلیدو وروسته عملي پلان ........ 10

پایله ........ 11

ضمیمي ........ 12

د اندونیزیا ملي پولیسو کي د رتبي جوړښت ........ 12

تشکیل 14

**په پوليسو کې د ښځو رول او په اندونيزيا کې د امنيت لاسته راوړلو کې د ښځينه پوليسو ونډه**

**کابل، د اکتوبر ۲۱ – ۲۵، ۲۰۰۷**

## شاليد

د نورو دموکراتيکو ټولنو پوليسو په شان، د اندونيزا ملی پوليس ټولنې ته د اړتيا وړ د خدمتونو برابرولو په لور خپل ځان پياوړی کوي. ددې لپاره چې پوليس خپل مسلکيتوب او عملکرد ته وده ورکړي او بالاخره د عامه وګړو باور تر لاسه کړي دوامداره کوښښونه او ابتکارات تر لاس لاندې نيول کېږي. ددې لپاره چې دغه هدف ته ورسيږي، داندونيزيا ملي پوليس خپل لومړنۍ دندې تر سره کوي تر څو امنيت اونظم تر کنترول لاندې ونيسي، د عامه خلکو ساتنه وکړي او په مسلکي او متناسب ډول قانون تنفيذ کړي چې البته د ښځينه پوليسو ونډه او مرسته ځان سره لري.

د اندونيزيا د ملي پوليسو دنده څرنګه چې د ۲۰۰۲ کال په دوهم شميره قانون کې تنظيم شوې ده د امنيت او نظم ساتل، د قانون تنفيذ او ټولنې ته د ساتنې او خدماتو برابرول دي.

څرنګه چې مخکې وويل شول چې د ريفورم په دغه عصر کې د اندنيزيا ملی پوليس په وړاندې تر ټولو لوی چالش د مسلکيتوب او دندې په برخه کې ده. دا پدې مانا ده چې د اندونيزيا ملی پوليس بايد پدې وتوانيږی چې د ټولنې ټولو اړتياؤ او هيلو ته مثبت ځواب ووايي. داهم پدې ماناده چې د اندونيزيا ملي پوليس خپل ځان اصلاح کړي په تيره بيا د خپل تفکر يا بيلګه مسلکي کړي، او د عامه خلکو ارزښتونو ته درناوی وکړي او د هغوی هيلې پوره کړي.

د قانون په مطابق دموکرټيزه او د بشري حقونه هغه موضوعات دي چې پوليسي دندو او صلاحيت سره نږدې تړاو لري. د انسانيت يو معيار چې استثنأ نه مني په اندونيزيا کې د قانون تنفيذ کې بشري حقونه دي. دغه کار د زيان پر ځای ټولنې، ادارې او د قانون تنفيذونکو ته ګټه رسولې ده.

په يوه اداره کې د کاري پياوړی پرمختګ څلورو عواملو باندې تړاو لري: ابتکار، نتورکنګ، تکنالوژي او طبيعي منابع. د ستراتيژيکو عواملو څخه هم يو بشري منابع دي چې د اندونيزيا ملی پوليس اړتيا او تقاضا داده چې د خپل په نوښت خپل بشري منابع پياوړې کړي. د خپل نتورکنګ ته وړه ورکړي، له تکنالوژۍ څخه کار واخلي او په عين حال کې خپل بشري منابع وده او اداره يې کړي.

د ريفورم په دغه عصر کې موږ بايد پدې پوه شو چې د اندونيزيا ملي پوليسو کې د ښځينه پوليسو رول پياوړي شوی دی. لدې چې د ښځينه پوليسو پياوړتيا مهمه برخه ده چې ټولنې ته په مرستې کې اړيکه لري موږ غواړو چې په دغه لنډ سند کې دغه موضوع تر بحث لاندې ونيسو.

په لنډ ډول دغه سند کې، شاليد، هدف، د ښځينه پوليسو په اړوند راز راز موضوعات، د ريفورم په عصر کې ښځينه پوليس، د ښځينه پوليسو د رول او دې ته ځانګړې پروژه، د څيرنې پايله او روزنيزې ناستې څخه عملي پلان شامل دي. راځئ چې د دغا سند هدف ته کتنه وکړو:

## ب. هدف

د افغانستان د کورنيو چارو وزارت لخوا 763/PO/VIII/2007/31 شميره، بلنليک چې د ۲۰۰۷ کال د اګست په ۱۶ نيټه ليکل شوی ؤ چې د اندونيزيا ملي پوليسو څخه غوښتنه شوې وه چې د مسلمانو ښځينه پوليسو نړيوال کنفرانس کې چې د ۲۰۰۷ کال د اکتوبر په ۲۵ نيټه په کابل، افغانستان کې دايريده يو پريزنتيشن وړاندې کړي، لدې کبله د دغه سند موخه داده چې د افغانستان کورنيو چارو وزارت بلنليک ته مثبت ځواب وکړو او د اندونيزيا ملي پوليس پوهه او تجربه د افغانستان ښځينه پوليسو سره وويشو.

## ج. د ښځينه پوليسو په اړوند په مختلفو موضوعاتو باندې بحث

د اندونيزيا ملي پوليس د ۱۹۹۹ کال د اپريل په لومړي نيټه له وسلوال ځواک څخه بيل شه. له هغه وخت څخه راپديخوا د اندونيزيا ملي پوليس تشکيل او چال چلند کې د بدلونونو په ګډون خپل ځان کې ډېر اصلاحات او بدولونونه راوستلي دي. دغه بدلونونه دموکراسي لپاره د اندونيزيا د خلکو له تقاضا څخه استازيتوب کوي په کوم کې چې د اندونيزيا ملي پوليس لوي رول لوبوي. په دوهم شميره قانون (۲۰۰۲) کې چې د اندونيزيا ملي پوليسو په باب ده راغلي چې دغه د اندونيزيا ملي پوليس لومړني دنده ده.

د نورو دموکراتيکو هيوادونو په شان، په يوه عامه اداره کې د ښځينه پوليسو اړتيا د يوې ټولنې ياټولنو په هکله ده پوليس يوه عامه اداره ده نو لدې کبله د ښځو استازيتوب ددې لپاره چې د هغوی ګټو، هيلو او نورو شيانو ته ځواب ورکړي، حتمي ده.

يو ستر هيواد، هغه هيواد ده چې د خپلو ښځو درناوی وکړي. د نارينه د برياليتوب شاته د پياوړو ښځو موجوديت دی.

په اندونيزيا کې ښځې، د ولسمشری څخه پيل، د پوليسو په ګډون د عامه اداراتو مختلف بستونه ډک کړي دي. په اوسني وخت کې د ښځو رول او ونډې څخه سترګې نشي پټيدای. نو لدې کبله ښځو ته بايد نور فرصتونه او بستونه ورکړل شي په تيره بيا هغه بستونه چې په اوس حال کې د سړيانو لخوا نيول شوي دي.

د دې لپاره چې د ښځو د کيفيت په وړاندې مساويانه قضاوت وکړو، بايد هغوی ته هم همداشان چانسونه ورکړل شي. داسې واقع کيږي چې مخکې لدې چې ښځو ته مساوي فرصت ورکړل شي د هغوی په هکله قضاوت کيږي. که دغه په حقيقي بڼه ونه پيژندل شي، دا د هغوي د ظرفيت د نه هڅولو لامل ګرځي. په هغو اداراتو کې لکه پوليس چې د سړيانو لخوا اداره کيږي، داسې باور موجود دی چې ښځينه پوليس يوازې د سکرتريت، او معاونيت بستونو او يا د قومندان لپاره د چای راوړلو بستو لپاره مناسبې دي.

له تاريخي کبله د اندونيزيا ښځينه پوليس د ۱۹۴۸ کال کې وزيږيده. په ۵۹ کلنې کې، د ښځو لپاره اړتيا د اندونيزيا ملي پوليسو کې په عمده ډول د زياتيدو په حال کې ده. دغه موضوع د يوه اسلامي حقيقت لخوا يې ملاتړ کيږي چې د اسلام په بنسټ ولاړه يوه اداره دا هڅوي چې ښځې بايد د ښځينه پوليسو لخوا تالاشي شي.

د اندونيزيا د خپلواکي په لومړنيو کلونو کې، د اندونيزيا ملي پوليسو کې لومړی يوازې ۶ تنه ښځينه پوليس استخدام شوه چې وروسته په اندونيزيا کې د ښځينه پوليسو د زيږون لومړنی پيشقدماني وبلل شوې. وروسته ۲۶ تنه ښځې استخدام او په لومړی ځل په جاکارتا کې د پوليسو په ټوګه وروزل شوې. وروسته د پوليسو استخباراتو کې هغوی ته دنده ورکړل شوه.

په کال ۱۹۶۰ کې ۱۱ شميره فرمان د پارلمان لخوا خپور شه چې د هغه په مطابق پوليس د وسلوال پوځ يوه برخه وګرځيده. وروسته له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۸ پورې د نويو ګمارل شويو ښځينه پوليسو روزنه د نارينه پوليس سره په يوګياکارتا کې سره يوځای شول چې يوازې د يوې بستې په توګه وپيژندل شو. له هغه څخه وروسته د پوهنتون فارغاني ښځې په لوړو بستونو او د ليسې فارغاني په ټيټو بستونو کې تر روزنې لاندې نيول کيدې.

د اندونيزيا ښځينه پوليس اوس د مسلکيتوب او معنويت عصر په لور روان دي سره لدې چې د اندونيزيا ملي پوليس ښځينه پوليسو ته مناسب ځای او رول ندې ورکړي چې پکې خپل ټول ظرفيت څخه کار واخلي.

په اوسني حال کې هم يو شمېر د پوليسو لوړ رتبه مقامات شته چې پدې باور دي چې ښځينه پوليس يوازې د سکرتريت او د قومندان ميلمنو ته د چای راوړلو لپاره مناسبې دي. په ۲۰۰۲ کال کې د ښځينه پوليسو يو نوي نسل ظهور وکړ او ۳۰ تنه ښځې د دريو کلونو لپاره د ملي پوليسو اکادمۍ کې چې په سمرنګ، مرکزي جاوا کې موقعيت لري، وروزل شوې. له هغه څخه وروسته ۳۰ تنه ښځينه پوليس په هر کال کې ګمارل کيږي. سره لدې چې د هغوی کار کردګي د هغوی لخوا تعينيږي، په جندر کې د کيفيت پروسه په ملي پوليسوکې پيل شوې ده.

ددې لپاره چې د ګمارل شويو پوليسو کيفيت لوړ شي، په ۲۰۰۷ کال کې د اندونيزيا ملي پوليس د پوهنتون له فارغانو څخه نارينه او ښځينه ښوونکي د پوليسو ملي اکادمۍ لپاره وګمارل. دغه کار د اندونيزيا ملي پوليسو کيفيت لوړول ښيي چې تر څو د پوليسو کيفيت او کميت په لنډ محال، منځ محال او اوږدمحال کې پوره کړي.

د شمیر له لحاظه، په اوسني حال کې ۱۲۸۰۷ تنه ښځینه پولیس په لاندنیو رتبو کې د اندونیزیا ملي پولیسو کې کار کوي:

1. د پولیسو ارشد سوپر انتندنت ۳۶ تنه
2. د پولیسو سوپر انتندنت ۵۶۷ تنه
3. د سوپر انتدنت مرستیال ۷۱۶ تنه
4. ارشد انسپکتر ۱۲۹۰ تنه
5. لومړی انسپکتر ۶۶۹ تنه
6. دوهم انسپکتر ۳۴۸ تنه
7. د لومړي انسپکتر مرستیال ۱۱۴۹ تنه
8. د دوهم انسپکتر مرستیال ۳۱۸ تنه
9. چیف برگدیر ۱۰۹۲ تنه
10. برگدیر ۱۴۵۲تنه
11. لومړی برگدیر ۱۶۹۲تنه
12. دوهم برگدیر ۳۴۳۸ تنه

د اندونیزیا ملي پولیسو مکمل تشکیل لپاره لطفاً ضمیمې ته مراجعه وکړی.

## د. ښځینه پولیس د اصلاح په عصر کې

یو لامل چې ولې په اندونیزیا کې ښځینه پولیسو ته د دوهمې طبقې په سترگه کتل کیږي دادې چې د جندر موضوعاتو باندې خلک کامل باور نلري، سره لدې چې زمونږ لومړی ولسمشره یوه ښځه (ایبو میگاواتي سوکرنوپوتري) وه.

که په ژوره توگه نظر وکړو د جندر موضوعات یوازنې لامل په دغه برخه کې ندی.

ښځینه پولیس د اندونیزیا ملي پولیسو یو تکمیلونکی برخه ده چې له نورو برخو څخه نه بیلیږي. لدې کبله ښځینه پولیسو ته په ټیټ نظر کتل د پولیسي دندو په سرته رسولو کې د مسلکیتوب موضوع سره تړاو لري.

لدې څخه پرته، د جندر نامساوات تر اوسه پورې د ملي پولیسو اصلاح په اجندا کې قرار لري چې په اندونیزیا کې د دموکراتیزه او د بشري حقونو د تنفیذ د پروسې یوه برخه ده.

خو دا زمونږ بارو ده چې د اندونیزیا ټولنه د ښځینه پولیس رول او ونډې څخه ملاتړ کوي. دا لدې کبله دی چې ښځینه پولیس په حقیقت کې له مسلکي پولیسو څخه استازیتوب کوي چې د ټولني له غړو سره په مهربانی، زړه سواند، میلمه پالنی او انسانیت سره چلند کوي. راځی چې زده کړو چې ښځینه پولیس د پولیسو په برخه کې څه لاسته راوړنې لري:

### *1. وظیفه خاص پولیس اناث برای رسیدگی به تظاهرات*

په اندونیزیا کې د امنیت راوستلو کې د ښځینه پولیسو مرسته مهمه ده. په تیرو پنځو کلونوکې ښځینه پولیسو ته دنده ورکړل شوې چې د اندونیزیا عمده ښارونو کې د مظاهره کوونکو سره مذاکره وکړي. لدې کبله کله چې د یوې پلان شوې مظاهرې خبر پولیسو ته

ورکړل شي، ښځینه پولیس چي د عامه کنترول واحد سره ضمیمه دي له دې یونت سره یو ځای کېږي چي د مظاهره کوونکو سره په مذاکره کي د مذاکرې له هغو تخنیکونو او مهارتونو څخه کار واخلي چي په لنډو کورسونو کي یې زده کړي دي. کله چي دغه مهربانه او دلسوزه ښځې د مظاهره کوونکو له قهر څخه ډکو ښځو سره مخامخ کیږي، په اکثرو حالاتو کي ستونزه حل کیږي، د مظاهرې په وخت کي دغه واحد معمولاً په لومړي لیکه کي د مظاهره کوونکو مخامخ قرار لري او د هغوی شاته بل واحد چي کاملاً د مظاهرې وسایلو سره سمبال دي وجود لري چي زورزیاتي او نورو حالاتو ته چمتو وي.

## 2. واحد اختصاصی پولیس اناثیه برای مجادله علیه خشونت های فامیلی

الف: د ولسمشر ۱۸۱ شمیره فرمان، د ۱۹۸۸ کال د ښځو په وړاندې د زورزیاتي ضد د ملي کمیټې په اړوند

ب: د اندونیزیا ۲۳ شمیره قانون، د ۱۹۹۴ کال، د کورني زورزیاتي د له منځه وړلو په اړوند چي له ۱۰ فصلونو او ۵۶ مادو په ګډون د لاندنیو تفصیلات لرونکي ده:

لومړي فصل، عمومي مواد

دوهم فصل اصول او اهداف

دریم فصل، د کورني زورزیاتي ممنوعیت

څلورم فصل، د قرباني حقونه

پنځم فصل، د حکومت مکلفیت او ټولنه

شپږم فصل، ساتنه او حفاظت

اووم فصل، د قرباني بیارغونه

اتم فصل، د جرم په اړه مواد

نهم فصل، نور مواد

لسم فصل، پایله

ج: د لومړي فصل په لومړۍ ماده کي راغلي چي د یوه فرد په وړاندې په تیره بیا د یوې ښځې په وړاندې په یوه کورني کي زورزیاتی چي د فزیکي، جنسي، یا رواني رنځ لامل ګرځي، او یا د کورنی غفلت، تحدید، او په زوره د آزادي د اخیستلو لامل ګرځي، د قانون مخالف ده.

د: دولت د کورني د زورزیاتي منځه وړلو ته اطمینان ورکړی چي د دغه ډول جرمونو مجرمینو ته سزا ورکول کیږي.

ه: د اندونیزیا ۲۳ شمیره قانون، ۲۰۰۴، د کورني زورزیاتي له منځه وړي.

و: د کورني سوله، امنیت او آرامي په کورنی کي د هر شخص هیله ده. په کورنی کي هر شخص باید د دین پر بنسټ عمل وکړي. دغه کار ته باید د کورنی د دوام لپاره وده ورکړل شي.

ز: که د خپل ځان کنترول او کیفیت اداره نشي د کورنی آرامي اخلالیږي چې په کورني کې د زورزیاتي لامل ګرځي او بالاخره د کورنۍ غړي د امنیت او عدالت نشتوالي سره مخ کیږي.

ح: دولت او ټولنه د دولتي ایدیالوژي (پنکیلا) او د اندونیزیا د ۱۹۴۵ اساسي قانون په مطابق مکلفیت لري چې له زورزیاتي څخه مخنیوي وکړي، د قرباني ساتنه وکړي او د زورزیاتي مسئولینو سره قانوني چلند وکړي.

دولت پدې نظر دی چې د زورزیاتي هر ډول، په تیره بیا کورني زورزیاتی، د بشري حقونو څخه زورزیاتي او د انسان وقار په وړاندې جرم دی او په خپله یو ډول تبعیض دی.

## *3. واحد اختصاصی پولیس اناثیه برای رسیده گی به قضیه های جنایی کا شامل زنان و اطفال میگردد*

الف: د اندونیزیا ملي پولیسو د مشر مقرره، د ۲۰۰۷ کال د جولای ۶، د یوه ځانګړي واحد جوړیدل چې د ماشومانو او ښځو په تړاو د جنایي قضایاو سره معامله وکړي.

ب: دغه واحد چې د PPA په نامه یادیږي د هغو ماشومانو او ښځو څخه ساتنه کوي چې د جنایاتو قرباني شوي دي، او د دغه ډلو جنایاتو مجرمینو باندې قانون نافذوي.

ج: دغه واحد ښځو او ماشومانو ته خدمات او ساتنه برابروي، د هغوی په وړاندې د جنایاتو پلټه کوي او له نورو اداراتو سره په دې اړوند همکاري او همغږي کوي.

## د تحقیق پایله

د اندونیزیا د ملي پولیسو د زیږون (۱۹۴۸) څخه راپدیخوا د ښځینه پولیسو عمر ۵۹ کلونو ته رسیږي. په ۵۸ کلنی کې، یعني پروسږکال، ښځینه پولیسو ته یو فرصت ورکړل شو تر څو خپل موقف او موجودیت په اړه تحقیق وکړي چې لاندني موضوعات پکې شامل ؤ:

- د اندونیزیا ملي پولیسو کې د ښځینه پولیسو رول څه دی؟
- د اندونیزیا ملي پولیسو کې د ښځینه پولیسو کارکردګي څه دی.
- د ښځینه پولیس کارکردګي په اړوند د متوقع حالت په مقایسه حقیقي حالت څه ډول دی؟
- د اندونیزیا ملي پولیسو کې ښځینه پولیسو باندې کوم ډول د پیاوړي کولو پروګرامونه عملي شي؟
- د اندونیزیا ملي پولیسو کې د ښځینه فیصدي څومره ده؟

لاندني مقادیر وکارول شول:

- پالیسی
- منجمنت
- کارکردګي
- دندي

- دسپلين
- چال چلند

له هغو کسانو سره چې مرکه وشوه:

- رئيسان، مشران، قومندانان
- دنارينه پوليسو ښځې
- ښځينه پوليس
- ټولنه: محلی مشران، مذهبي مشران
- حکومتي مقامات، زده کوونکي او د جنايي عدلي مقامات

1. د مشرتابه پاليسي

- هغوي موافقه وکړه چې د ښځينه پوليسو کميت او کيفيت بايد زيات شي.
- د NCO ښځينه پوليسو د زده کړې دوره بايد له ۵ مياشتو څخه ۹ مياشتو ته وغځول شي.
- ښځينه پوليسو ته بايد موقع ورکړل شي ترڅو د خپل کار پرمختګ لپاره خپلو زده کړو ته وده ورکړي.
- ښځينه پوليسو ته د اوپراسيون برخو کې نور زيات موقف ورکړل شي.

2. منجمنت

- په اوپراسيوني دندو کې په عمومه توګه د ښځينه پوليسو کار د هغوی پوهنتون رشتې سره سم وه، خو يو شمير نوروته د تقاضا په مطابق مناسب کار ندي ورکړل شوی.
- د دندې په وړاندې د ښځينه پوليسو مسئوليت ته ښه ځواب ورکړل شو، د دې په ګډون چې هغوی د د ندې لايحې په مطابق خپل مادون اداره کوي، کار کوونکو ته لارښونه کوي او حتې د ناسمو کارونو په صورت کې هغوی ته سزا ورکوي.

3. کارکردګي

- د محلي خلکو،مشرانو او حکومتي مقاماتو له ٪۶۸،۹۷ تر ٪۷۵،۸۹ پدې موافق ؤ چې د ښځينه پوليسو کار په ټولنه کې د امنيت احساس منځته راوړي.
- هغوی په ښه ډول د ټولنې خدمت کوي نو لدې کبله هيڅوک د مايوسی احساس نکوي، هغوي د ترافيکو د قانون سر غړونکو ته د مراعات موقع نه ورکوي.

4. دنده

- په عملياتي دندو کې ٪۳.۷۳ خلکو د ښځينه پوليسو ښه ارزونه وکړه ځکه هغوی ددې جرئت لري چې سرغړونکي ته کلک ځواب ورکړي. لدې کبله خلک د دې هيله لري چې ښځينه پوليسو ته هغه دندې ورکړل شي چې له نږدې څخه خلکو سره په تماس کې وي.
- ٪۷۶،۸۹ رئيسان او معاونين پدې موافق ؤ چې ښځينه پوليسو ته لنډ مهال کورسونه لکه د مذاکره کولو کورس ورکړل شي.

- ۶۷،۴٪ د نارینه پولیسو ښځي پدې باور وې چې ښځینه پولیس د پرسونل او عملیاتو برخو کې کار کولای شي.

5. دسپلین

- رئیسانو، ښځینه پولیسو او د نارینه پولیسو ښځو ۷۵٪ تر ۸۷،۳٪ وارزوله چې د ښځینه پولیسو دسپلین ښه دی.
- هغوی پدې موافق ؤ چې ښځینه پولیس دایم له مقرراتو او اوامرو څخه اطاعت کوي، او وخت پیژندونکي دي. همدارنګه یو لږ شمیر ښځینه پولیس شته چې قانون ماتوي او بې دسپلیني کوي. هغوی ته د کلماتو یا اداري محدودیتونو په واسطه سزا ورکول کیږي.

6. چال چلند

- د رئیسانو، حکومتي مقاماتو، ښځینه پولیسو او نارینه پولیسو ښځو د ۶۶،۷۸٪ تر ۸۸،۲۲٪ پورې یې پدې موافق ؤ چې ښځینه پولیس خلکو سره ښه چال چلند لري.
- ښځینه پولیس د قانون نافذولو کې ځنډ نه راولي، د خلکو په مرسته کولو کې چټک غبرګون ښیي او هم هغوی انتقاد منونکي دي.
- خلک ښځینه پولیسو ته د نورو ښځو په پرتله په ښه نظر ګوري، هغوی خپلې دندې په ښه توګه سرته رسوي او هم په ښه او پاک ډول یونیفورم اغوندي.

له پورتنیو معلوماتو څخه داسي ښکاري چې د ښځینه پولیسو لرل ډیرې ګټې او زیانونه لري. خو د دې اړتیا لیدل کیږي چې ښځینه پولیسو ته ددې چانس ورکړل شي تر څو خپل اداري او پولیسي مهارتونوته وده ورکړي. لاندني بحث د هغوی روزنیزې اړتیاوې په ګوته کوي.

## د ښځینه پولیسو د رول د پیاوړي کولو لپاره ځانګړې پروژه

د ۲۰۰۶ کال له جولای تر اکتوبر پورې هغه وخت ؤ چې د اندونیزیا ملي پولیسو کې ښځینه پولیسو رول او ونډه د تحقیق او پلټنې لاندې ونیول شه. د دغه تحقیق پایله یو سمینار ؤ چې د اندونیزیا ښځینه پولیسو د استازو لخوا پکې ګډون وکړ. په دغه سمینار کې د ښځینه پولیسو کمزورتیاګاني همدارنګه هغه مهارتونه وپیژندل شول چې ښځینه پولیس د هغوی په کارولو سره خپلې دندې په اغیزمنه توګه سرته رسولی شي.

- منجمنت (اداره)
- رهبری یا مشرتوب
- مکالمه او مکاتبه
- د فعالیت تحلیل او تجزیه
- د تیم کار
- د تیم جوړول
- د ملي پولیسو چارې
- جندر

- قاچاق
- فامیلي زورزیاتی
- مذاکره
- د منازعي منجمنت
- ناسته
- شخصیت/مورال یا روحیه
- ځانګړی خدمت
- د ښځو اوماشومانو ساتنه
- د سیاریه قانون کي پولیس

زموږ د پلان په مطابق موږ باید په ۲۰۰۷ کي د مقر په کچه د ماستر ترینري، د RPC ماستر ترینري، Polres او Polsek کورسونه په لاره واچوو.

په ۲۰۰۸ کي، د اندونیزیا ملي پولیسو مقر به د RPC، Polres، Polsek لپاره د ماستر ترینري کورسونه په لاره واچوي. د مقر رول دادی چي د دغو کورسونو کیفیت کنترول کړي. د اندونیزیا ملي پولیسو مقر باید اطمیناني کړي چي دغه روزني د معیار په مطابق په لاره واچول شي.

نوټ: د اندونیزیا د ملي پولیسو د مراتب سلسله: د اندونیزیا ملي پولیسو مقر، د پولیسو سیمیز قومنداني، د پولیسو د سیمیز فرعی قومنداني، د پولیسو د قطعي قومنداني، او د پولیسو د قطعي فرعی قومنداني.

## د روزنیزې پروژې د تکمیلیدو وروسته عملي پلان

د پلان په مطابق موږ د ۲۰۰۷ کال په جولاي کي د اندونیزیا ملي پولیسو مقر کي ۳۰ تنه ښځینه ماستر ترینرانوته دوه اونی ترینګ ورکړل. د پولیسو سیمیزې قومندانی ماستر ترینرانو ته موهم د ۲۰۰۷ په سپتمبر کي ترینګ ورکړل.

دغه ۹۲ ښځینه ماستر ترینراني (په هر RPC کي ۳ تنه) په نورو سیمیزو قومندانیو کي نور ماستر ترینران روزي.

کله چي ښځینه پولیس د ترینرانو په توګه وروزل شوه، وروسته به نور ترینران موجود وي چي نور ښځینه پولیس د کار په ساحه کي وروزي. وروسته پایله به یې داوي چي ډیر زیات شمیر ښځینه پولیس به د اړتیا وړ مهارتونه لاسته راوړي. لدې کبله زیات شمیر ښځینه پولیس به موجود وي تر څو د اړتیا وړ دندو کي وګمارل شي.

د کمیت له لحاظه، د اندونیزیا ټول نفوس ۲۱۸ ملیونه دی چي ۱۱۲۳۰۰۰۰۰ تنه یې ښځې دي (د مرکزی احصاییې دفتر، د ۲۰۰۷ کال اګست). د اندونیزیا د ملي پولیسو مجموعي شمیره ۳۶۷۰۰۰ تنو ته رسیږي په داسي حال کي چي د ښځینه پولیسو شمیره ۱۲۰۰۰ ته رسیږي. دا د عامه خلکو له توقع او هیلو څخه ډیر کم دی. د اندونیزیا ملي پولیسو رئیس وړاندوینه کړې چي په راتلونکو ۱۰ کلونوکي به د ښځینه پولیسو شمیره ٪۱۰ لوړه شي. لدې کبله موږ باید په کال کي ۵۰۰۰ تنه نوي ښځینه پولیس وروزو. د دې اړتیا شته چي د ښځینه پولیسو نسبت د ښځو نفوس ۵۰۰:۱ ته ورسوو چي اوس ۹۰۰:۱ دی. د ښځینه پولیس د اړتیا شمیر باید د اندونیزیا نفوس او د نارینه پولیسو شمیرې په تناسب مطالعه شي.

نور موضوعات چي د عملي پلان څخه بهر دي، په اندونیزیا کي په محلي چارو کي د ښځینه پولیسو رول مهم ثابت شوی دی. د یوه امتحاني پروژې په ترڅ کي د ښځینه پولیسو رول او ونده ثابته شوه او دابه په دوامداره توګه د اندونیزیا ملي پولیسو مشرتابه څخه

ملاتړ لاسته راوړي. د محلي پوليسو ستراتيژي چې د اندونيزيا ملي پوليسو مشترتابه جوړه کړې ده داده چې د اندونيزيا هر کلي (۷۰۰۰۰ کلي په اندونيزيا کې موجود دي) ته يو د پوليسو افسر موظف شي. داسې وړاندوينه شوې چې د پوليسو او محل تر منځ يو ډول همکاري منځته راشي چې د هغه له لارې پوليس خلکو ته پوليسي خدمات برابر کړي او په عين حال کې د امنيت او نظم ساتنه وکړي.

په اوسني حال کې ښځينه پوليس يوه چالش سره مخ دي چې هغوی بايد پخپله خپل مهارت او د دندې کيفيت اوچت کړي.

بل چالش داده چې د ښځينه پوليسو شميره د ښځو نفوس په تناسب لوړ شي. د اندونيزيا د ښځو نفوس ۱۱۲۳۰۰۰۰۰ دی په داسې حال کې چې د ښځينه پوليسو شمير يوازې ۱۲۰۰۰ تنه دی.

د پايلې په توګه، هغه موضوع چې په لومړي کې مطرح شوه چې ښځينه پوليس د امنيت په برخه کې ونډه اخلي، څرنګه ښځينه پوليس په جاکارتا اونوروعمده ښارونو کې د مظاهره کوونکو سره مخامخ کيږي. ښځينه پوليس په هغو واحداتو کې په کار بوخت دي چې د ماشومانو او ښځو په وړاندې د زورزياتي په برخه کې کار کوي. د ښځينه ماستر ترينرانو روزنه چې هغوی نور ترينران وروزي يوازنی کار ده چې د هغې دندې پر سر قضاوت کيږي، نه داچې د دوهمې طبقې د پوليسو افسرانو په نظر توګه.

## پايله

د دې په اړوند چې څرنګه ښځينه پوليس د اندونيزيا په اوس او راتلونکي کې د امنيت په ټينګښت کې ونډه اخلي، دا ټول همدومره ؤ.

22. دوهم بيانګارا

د اندونيزيا ملي پوليسو کې د مراتب (قوماندې) سلسله

1. د ملي پوليسو مقر = يو دفتر په جاکارتا کې
2. د پوليسو سيميز قوماندانې = ۳۱ ولايتي مقرونه
3. د پوليسو سيميز فرعي قوماندانې
4. د پوليسو قطعه يي قوماندانې = ۴۷۲ دفاتر (دواړه ۳ او ۴)
5. د پوليسو قطعه يي فرعي قوماندانې = له ۳۰۰۰ څخه زيات
6. د پوليسو پوسته = له ۶۰۰۰ څخه زيات

تشکیل

د ښځو او ماشومانو واحد

د سیمیزو پولیسو د قوماندانی په کچه



تشکیل

ښځو او ماشومانو ته ځانګړی واحد

د قطعه يي پوليسو قومنداني

